

دوویشتمه خبرپاڼه

د ټاکنو خپلواک کمیسیون

انتخابات

د ۱۳۹۸ کال د لیندۍ پنځه ویشتم

## د ولسمشریزو ټاکنو په اړه معلوماتي ناسته

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشرتابه، د 1398 کال د لیندۍ میاشتې په اوه لسمه نېټه د روان کال د تلې په شپږمه د ترسره شویو ولسمشریزو ټاکنو په تړاو د ټاکنیزو ډلو د استازیو، سیاسي ګوندونو، پر ټاکنو د څارونکو بنسټونو، د مدني ټولنې استازیو، سفیرانو او نړیوالو ملاتړو په ګډون د کمیسیون په ودانۍ کې ملي ناسته جوړه کړه.

په پیل کې د کمیسیون مشرې میرمن حوا علم نورستانۍ وویل: د قامونو له مشرانو، رهبرانو او ښکېلو بنسټونو څخه هیله کوو چې په پاتې اوو ولایتونو کې د رایو د تفتیش او بیاشمېرنې په چاره کې له کمیسیون سره مرسته او همکاري وکړي"

میرمن نورستانۍ زیاته کړه:"خلک دې ډاډمن اوسي چې کمیسیون په رڼه او بې پرې توګه چارې پر مخ وړي، او د هیڅ یوې ډلې ټپلې تر اغېز لاندې نه راځي."

په دغه ناسته کې د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون منشي او کمېشنر ډاکټر محمد قاسم الیاسي وویل چې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د لومړنیو پایلو وروسته چمتو دی چې په اړه یې رسېدلي شکایتونه وارزوي. هغه زیاته کړه د کاندیدانو د لومړنیو پایلو تر اعلانېدو وروسته د درېیو ورځو په ترڅ کې کاندیدان کولای شي خپل شکایتونه د دوی په ولایتي او یا مرکزي دفتر کې ثبت کړي.

دا رنګه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کمېشنر محمد حنیف دانشیار د هغو درې سوه زرو رایو په تړاو چې سیستم‌ته نه دي ښودل شوي تخنیکي او هر اړخیزې خبرې وکړې او یو لړ پوښتنو ته یې ځوابونه ورکړل.

ښاغلي دانشیار په دستګاوو کې د وخت مسلې ته اشاره وکړه او ویې ویل د وخت د کموالي له امله په دستګاو کې د ساعت ویر نشتوالی د درملوک کمپنۍ ستونزه ده چې موږ یې په اړه پرېکړه نه شو کولای، دا به هغه مهال د معیار په توګه موږ منلای وای چې د هغه ساعت ویر په دستګاوو کې نصب شوی وای او هیڅ په کې د لاس وهنې حق نه لارم.

دا رنګه هغه زیاته کړه چې په دې برخه کې حقوقي مبناء د څارونکو شته والی، د مرکزونو د پرانیستلو په اړه د امنیتي ادارو رپوټونه، ژورنال، د شکایتونو فورمې، شکایتونه او نور هغه اسناد دي چې د درملوک کمپنۍ له خوا کمیسیون ته رسېدلي دي.

دا رنګه هغه، ټولو ښکېلو غاړو ته بلنه ورکړه که په دې برخه کې د لا زیاتو معلوماتو غوښتونکي وي، کمیسیون چمتو دی چې په دې برخه کې هر اړخیز معلومات ورکړي، ان له رسنیو یې هم وغوښتل چې په دې برخه کې تحقیقي رپوټونه چمتو کړي.

د ټاکنو د کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون غړیو، د ولسمشریزو ټاکنو د کاندیدانو استازیو، د مدني ټولنې غړیو د موضوع په اړه خبرې وکړې او د اړونده موضوعګانو په اړه یې یو له بل سره نظرونه شریک کړل.

په پای کې د کمیسیون مرستیال سید عصمت الله ملیو خلي بیا په زغرده سره وویل چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د هیچا او هیڅ یوې ډلې تر فشار لاندې نه دی او د ټاکنو لومړنۍ پایلې به په رڼه او بې پرې توګه اعلان کړي.

## په ولایتونو کې د رایو د تفتیش او بیاشمېرنې په اړه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د مشرې د وینا مهم ټکي

- تر کومه چې د افغانستان ستر ولس هم خبر دی، د رایو د تفتیش او بیاشمېرنې بهیر د لړم په اتلسمه نېټه پیل شویدی. خو د تفتیش او بیاشمېرنې په دغه بهیر کې د یو شمېر ټاکنیزو ډلو د اعتراضونو او نیوکو او هغو ته د کمیسیون د ځواب ویلو له امله دغه بهیر د ځنډولو ورځو له پاره په ټپه ودرېد.

  خو دغه بهیر بېرته د ټاکنیزو ډلو له استازیو سره د یو لړ غونډو او تخنیکي ناستو وروسته بیا له سره پیل شو چې تر اوسه په 27 ولایتونو کې د رایو تفتیش او بیاشمېرنه بشپړه شوې، او په اوو نورو ولایتونو کې د ځینو ټاکنیزو ډلو د اعتراضونو له امله تر اوسه نه ده پیل شوې.

- د 108 پرېکړه لیک په تړاو چې د 137630 رایو د بایومټریکي معلوماتو په اړه دی، غواړم یو ځلي بیا په ډاګه کړم چې: «د کمیسیون سره اصلي رایې هغه دي چې بایومټریک شوې وي.» 137630 شمېر هغه دي چې د رای ورکوونکو بایومټریکي معلومات په کې نغښتي دي چې د افغانستان په 34 ولایتونو کې د 4563 محلونو څخه مرکزي سرور ته لېږل شوي چې ټول مرکزونه او محلونه یې معلوم دي او د پایلو فورمې یې د محلونو په ژورنال او مرکز کې خوندي شوېدي.

- د کاندیدانو څارونکو، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون استازیو او کتونکو په دغو فورمو کې لاسلیک کړی، او که کومه ستونزه او ټاکنیزه درغلي پر دغو محلونو کې شوې وي نو ارو مرو به د کاندیدانو څارونکو د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د 91 بیسې مادې له مخې خپل شکایتونه ثبت کړي وي چې اړونده څانګه به د هغو شکایتونه وڅیړي. دا رنګه د 4564 محلونو له ډلې په 2141 محلونو کې هغه ستونزې چې د کمیسیون د تخنیکي ډلې له خوا تشخیص شوې وي، تفتیش او بیاشمېرنې ته واستول شوې.
- دا رنګه د کمیسیون د 109 ګڼه پریکړه لیک په اړه چې د 102012 رایو د بایومتریکي رایو او د رای ورکوټو د وختونو په اړه پرې بحث کېږي، باید ووېل شي چې دغه معلومات د 7354 محلونو په هکله دي چې د افغانستان په 34 ولایتونو سره تړاو لري. 262 محلونه چې 13949 بایومتریک معلومات کېږي د بیو لړ ګډونیو له امله د تفتیش او بیا شمېرنې له پاره واستول شوي چې په ټوله کې د 7354 یاد شویو محلونو څخه په 1894 محلونو کې چې ستونزې یې لرلې د اصولو سره سم تفتیش او بیاشمېرنې ته ولاړې.
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټولو ټاکنیزو ډلو او د هغو د ټاکنیزو دفترونو څخه غوښتنه کوي چې قانون، لوایح، تګلارې او د کاندیدانو او څارونکو اصول له پامه و نه غورځوي او د ټاکنو خپلواک کمیسیون دې پرېږدي چې خپلې چارې د نافذه قوانینو سره سمې پر مخ یوسي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د هېوادوالو له پراخې حوصلې څخه چې د ټاکنو د لومړنیو پایلو د اعلان په ځنډ کې یې کړې، مننه کوي او هڅه یې دا ده چې ژر تر ژر د ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان کړي.

## د ښځو سره د زورزیاتي د بندولو د شپاړس ورځینې کمپاین د کمیسیون د غړو په حضور کې

د 1398 کال د لیندۍ په 14 مه نېټه د ښځو سره د زورزیاتي د منع کولو د شپاړس ورځني کمپاین په ویاړ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشرتابه او نورو کارکوونکو په ګډون د دغه بنسټ د رسنیو په مرکز کې غونډه جوړه شوې وه.

د کمیسیون مشرې مېرمن حوا علم نورستانۍ د هېواد د پرمختیک په ټاکنو کې د مېرمنو د ونډې ارزښت او په دولتي ادارو کې د هغوی پر پراخې ونډې رڼا واچوله او وېې وېل: "د دولتي کارکوونکو په کچه د مېرمنو په برخه کې دوه او د لنډ مهاله کارکوونکو په کچه بیا 27 سلنه زیاتوالی راغلی."

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشرې، له ټولو سیاسي مشرانو او ښکېلو خواوو څخه وغوښتل چې له پاتې شویو اوو ولایتونو څخه چې له بیا شمېرنې څخه پاتې شوي د هغوی په بیا شمېرنه کې مرسته او همکاري وکړي چې موږ وتوانېږو د قانون سره سم په دغو ولایتونو کې د تفتیش او بیا شمېرنې وروسته لومړنۍ پایلې اعلان کړو.

وروسته مېرمن یوسفه، مېرمن ورنګ او مېرمن روښن ځیرن په کمیسیون کې د دغسې غونډو د جوړېدو ستاینه وکړه او د ښځو سره د زور زیاتي، او د سولې او ټاکنو په بهیرونو کې یې د هغوی پر ونډې او ارزښت خبرې وکړې.

دا رنګه هغوی په ټاکنو کې له ټولو ښکېلو خواو وغوښتل چې د افغانستان د خلکو رایو ته درناوی وکړي او د کمیسیون په چارو کې دې لاس وهنه نه کوي، او کمیسیون ته دې اجازه ورکړي چې لومړنۍ پایلې اعلان کړي.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کمیشنرې مېرمن رحیمه ظریفي د دغې غونډې په پای کې ووېل د افغانستان مېرمنې د دغه هېواد اتلانې دي او موږ ته په کار ده چې په هره دنده او مقام کې چې یو د ښځو پر وړاندې د زور زیاتي له پاره ځانګړي تګلارې ولرو، او په اړه یې افغان مېرمنو ته پیغام ورکړو او هغوی ته د چوپړ جوګه شو.

مېرمن ظریفي زیاته کړه چې ټولې طرحې او کړنې سره پرته شي چې تېر کال په کوم وضعیت کې وو، سږني کال چېرته رسېدلي یو. باید موږ پر دې پوه شو چې زموږ خواک او هود کولای شي، موږ د بري تر پولې ورسوي.

هغې له اداري او مدني بنسټونو څخه د عامه پوهاوي، په ټاکنیز بهیر کې د مېرمنو د ګډون په تړاو مننه وکړه.

## له چاراوکو سره لیدنه کتنه (AWN) د کمیسیون د مشرتابه د غړیو، او د افغانو مېرمنو د شبکې

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د 1398 کال د لیندۍ په پنځمه نېټه د افغان مېرمنو شبکې له غړیو سره د ولسمشریزو ټاکنو په بهیر کې پر رڼښت او د لومړنیو پایلو د اعلانولو پر سر خبرې اترې وکړې.

د کمیسیون مشرتابه د دې تر څنګ چې د افغان مېرمنو د شبکې غړیو ته هر ګلي ووایه د هغو پرمختګونو او ننګونو په اړه چې د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو د اعلانولو پر سر پرتې دي معلومات وړاندې کړل او په دې اړه یې زیاته کړه چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون په دې برخه کې د حقوقي اسنادو او د کمیسیون پرېکړو ته ژمن دی.

له بله پلوه د افغان مېرمنو شبکې خپلې موندنې او وړاندیزونه د کمیسیون له مشرتابه سره شریک کړل.